AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نظر محمد مطمئن ۲۰۱۸/۰۱/۱۵

# د ترکيې سولې غونډه

د جنورۍ ۱۳مه ۲۰۱۸، کابل ته د ملګرو ملتونو د امنيت شورا لوړ رتبه هيئت را ورسيد، د هيئت مشرۍ په ملګرو ملتونو کې د قزاقستان سفير او د امنيت شورا نوبتي رئيس کوله، له هغه سره په ملګرو ملتونو کې د امريکا سفيره او د امنيت شورا نور غړي هم وو.
همهاله په همدې ورځ په ترکيه کې د طالبانو سره د سولې د مذاکراتو د پيل خبر هم ورکول شو، کورنيو او نړيوالو رسنيو دا خبرونه خپاره کړل چې په ترکيه کې د حزب اسلامي په وساطت د طالبانو او افغان حکومت تر منځ د سولې مذاکراتو غونډه کيږي. د امنيت شورا د بحثونو په اجنډا کې چې له افغان حکومت سره يې درلودل، د ترهګرۍ او جګړې د ختم په اړه بحثونه محوري وو.
ترکيه کې د غونډې برخوال د حزب اسلامي استازی همايون جرير (له کابل څخه) او دواجان احمدزی (له پېښور څخه)، د سولې عالي شورا او افغان حکومت په استازيتوب ډاکتر عبدالبصير، د طالبانو د ملا محمد رسول اخوند د ډلې په استازيتوب ملا عبدالروف او ملا عبدالحليم، او د نامعلوم ادرس څخه ملا رحمت الله وردګ (له متحده عرب اماراتو څخه) ګډون کړی وو.
په تيرو دوو اونيو کې موږ دوه ځلې د افغان حکومت له لوړ پوړو چارواکو سره د سولې اړوند غونډې درلودلې، هغوی د نورو ډيرو مسايلو تر څنګ ډير ښکاره وويل چې موږ غواړو چې د طالبانو له رښتوني استازو سره مخامخ اړيکې او پيغامونه تبادله کړو، او نه غواړو چې طالبان وويشل شي او يا هم د طالبانو په تش نوم د کومې ډلې او يا اشخاصو سره د سولې خبرې وکړو؛ ځکه نتيجه نه لري، داسې د سولې مذاکرات غواړو چې د طالبانو د واک لرونکو استازو سره وي، افغان چارواکي مني چې امريکا د افغان کشالې يو اړخ دی، او طالبان بايد د امريکا اړوند ځينو مسايلو مخامخ خبرې ورسره وکړي.
ولې د ترکيې غونډه بيا د افغان حکومت د پورته خبرو سره ځرګند تناقض لري، په ښکاره ډول د طالبانو د ويش او د هغوی تر منځ د بې باورۍ پيدا کولو هڅه ښکاري.
له دې مخکې د پير سيد احمد ګيلاني په مشرۍ هم په کابل کې د سولې اړوند غونډه وشوه، او کيدای شي چې ورته نورې غونډې هم د ځينو جهادي رهبرانو او مدني تولنو لخوا وشي. د سولې رغ په طالبانو وشي، تر څو په طالبانو حجت پيدا کړلای شي چې هغوی د سولې برخه کې چمتوالی نه لري.
پورته خبرې او انديښنې د حکومت د لوړ پوړو چارواکو لخوا داسې ځواب کيږي چې ترکيه کې غونډه د سولې شورا لخوا نه ده، بلکې ځينې ګوندونه او سياستوال هڅې کوي چې د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ د باور جوړولو لپاره دغه ډول غونډې جوړې کړي.
بيا هم پوښتنه دا پيداکيږي؛ که چيرته افغان حکومت او سولې عالي شورا لخوا د يادې غونډې تائيد او ننګه نه وای، حتمي ده چې افغانانو ته به د ترکيې حکومت په ترکيه کې د دغه ډول ناستې اجازه نه وای ورکړې، ځکه ډيری هغه غونډې چې د نړيوالو ادارو لخوا په بهرنيو هيوادو کې يې د چمتووالي تابيا نيول شوي وه او د طالبانو رښتوني استازو يې د ګډون ژمنه کړې وه، د افغان حکومت لخوا يا د غونډو مخنيوی وشو او يا خو په غونډه کې د طالبانو د ګډون لپاره يې خنډونه پيداکړل.
د نړيوالو او په ځانګړې ډول په افغانستان کې د ناټو د ملکي سفير او دا ډول اروپايي ټولنې د ملکي مشرانو لخوا په ګډ حکومت ډير زيات فشار دی چې بايد د سولې اړوند پرمختګ وکړي.
ويل کيږي چې د ګډ حکومت مشر ډاکټر اشرف غني، د امنيت شورا مشر حنيف اتمر او د ډاکټر غني بهرنی سلاکار سکاډ په ګډه د سولې پروسې اړوند پر يوه جوړښت او طرحه هم کار کړی دی.
په ترکيه کې چې کومو کسانو ناسته کړې، ويل کيږي چې کابل ته هم تګ راتګ لري، ښه به وای چې د ترکيې پر ځای يې په کابل کې ناسته کړې وای، بيا به په افغان حکومت د سولې برخه کې د بې باورۍ انديښنې نه زياتيدلاې، اوس انديښنې شته، ځکه د سولې شورا او د ګډ حکومت د مشر له آدرسه طالبانو ته داسې پيغامونه رسيږي چې دوی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ربنتوني سولې ته چمتو دي، باعزته سوله غواړي او تسليمي نه غواړي، او حکومت هوډ لري چې د سولې برخه کې بې باوري ختمه شي.

بل خوا د همدغه ډول پيغامونو تبادله چې د طالبانو مشرانو ته رسيږي او يا طالبان فکر کوي چې امريکا نور په افغانستان کې له ډيرو ستونزو سره مخ شوي، او نړيوالو ټولنه د افغان کشالې سولييز حل ته کيداى شي کومه ورځ کښيني، له دي امله ده چې ممکن طالبان هم اړ شوې وي چې د خپلو جنګيالو د سولې اړوند ذهنيت جوړولو لپاره به يې کم تر کمه لږ کار کړى وي، او حکومت هم ممکن د طالبانو د سولې اړوند ځينو هڅو په اړه معلومات په وخت ترلاسه کړى وى، ولي د ترکيې د سولې مجهوله غونډه او د مجهول ادرسونو شتون ممکن د طالبانو او حکومت تر منځ باور نور هم لا زيات زيانمن، او د طالبان سولې جوړولو ذهنيت د پرمختګ خنډ وګرځي.

دغه ډول ناستې د عام ولس ذهنيت هم مغشوش کوي، او د هغو کسانو انديښنې هم بې پوښتنې پاتې کيږي چې د ښکېلو اړخونو د سولې اړوند پيغام رسولو او يا خو د فاصلو کموالي هڅې کوي. حکومت ته په کار ده چې د دغه ډول ناستو لپاره تسهيل کوونکی ونه اوسي، بلکې د هغو غونډو لپاره هم خنډ نه شي چې د طالبانو ربنتوني استازي پکې ګډون وکولاى شي.

افغان حکومت ځينو نا پيلو، ولسي متنفذينو، علماو او شنونکو څخه غواړي چې د دوى پيغام له مثبت نويو خبرو او مثبت سولې تګلاري اړوند بدلونو سره يو ځاى طالبانو ته ورسوي، او طالبان د سولې خبرو ته چمتو شي، مګر د ترکيې په ډول غونډې حکومت خلکو او خلک طالبانو ته بې باوره کوي.

سولې ته د طالب جنګياليو ذهنيت جوړول او افغان حکومت کې د سولې ضد کړيو د هڅو د مخنيوي لپاره وخت ته اړتيا ده، مګر دغه ډول ناستې به پرته له شکه منفي تاثيرات له ځان سره لري.

که افغان حکومت فکر کوي چې په دغه ډول ناستو چې د حزب اسلامي او طالبانو تر نوم لاندې يې کوي، د شمال ټلوالې ځينې مشران د عطاء محمد نور په ګډون وننګوي، فکر کوم، د شمال ټلوالې ځينې غړي هم د طالبانو له ربنتوني مشرتابه سره اړيکه او تماس کې دي.

يا پلان دا وي چې کله او کوم وخت، ربنتوني طالبان د سولې مذاکراتو ته په درې اړخيزه ناسته ( طالبان، امريکا او افغان حکومت) کې زړه ښه کړي، او بيا افغان حکومت او امريکا دا خبره هم را پورته کړي، چې طالبان نورې ډلې هم لري، او هغوى په ترکيه کې ډيرې غونډې کړې (تر دې مهاله نږدې ۴ غونډې د حزب اسلامي، سولې شورا د غړو او ملا محمد رسول د ډلې د طالبانو تر منځ شوې)، هغوى ته هم بايد د سولې مذاکراتو کې د ګډون حق ورکول شي.

پرته له شکه چې د طالبانو مشران او جنګيالي د سولې برخه کې په يوه خوله نه دي، هغه طالب مشران او طالبان چې د سولې لپاره فکر، وړانديزونه او طرحې لري، د ترکيې ناسته د هغوى فکر او نظريات هم کمزوري کوي، او هغه طالبان چې په يو مخيز ډول په جګړه باندې باور لري، د هغوى باور نور هم قوي کوي.

دغه ډول ناستې به د حزب اسلامي د سولې دريځ او تګلارې باندې هم ناوړه اغيز ولري؛ ځکه هغه باورونه او هيلې چې د حزب اسلامي څخه کيدلې، که د غه ډول مجهولې او بې نتيجې د سولې ناستې وکړي، په حزب اسلامي به د ولس باور زيانمن کړي، او په کور دننه به د حزب اسلامي او طالبانو سره پخوانۍ جنګيدونکې ډلې نورې هم متحرکې او حساسي کړي.

يوه خبره اړينه ده چې د ترکيې د سولې اړوند غونډې ته ښاغلی همايون جرير د حزب اسلامي د مشرانو په اجازه او پريکړه د ګډون لپاره تللی دی.

پرته له شکه چې د دغسي بې نتيجې سولې اړوند غونډې به په افغان حکومت د نړيوالو باور لا زيات نور هم کم کړي.

ښه به وي چې د طالبانو لپاره د قطر دفتر په رسميت وپيژندل شي، تر څو ددغه ډول مجهولو غونډو مخنيوى اسانه او طالبان په اساني سره له افغان سياستوالو، رسنيو او نړيوالو سره خپل نظر په وخت باندې شريک کړي.

۱۴ جنوري ۲۰۱۸


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ